# لاس کې دی چېقسم په هغه ذات چې د محمد روح د هغه په لوښي يې د آسمان له ستورو او سيارو له شمېر څخه زيات دي

له ابو ذر رضي الله عنه څخه روايت دی چې وايي: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ مَا آنِيَةُ الْحَوْضِ؟ قَالَ: «وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَآنِيَتُهُ أَكْثَرُ مِنْ عَدَدِ نُجُومِ السَّمَاءِ وَكَوَاكِبِهَا، أَلَا فِي اللَّيْلَةِ الْمُظْلِمَةِ الْمُصْحِيَةِ، آنِيَةُ الْجَنَّةِ مَنْ شَرِبَ مِنْهَا لَمْ يَظْمَأْ آخِرَ مَا عَلَيْهِ، يَشْخَبُ فِيهِ مِيزَابَانِ مِنَ الْجَنَّةِ، مَنْ شَرِبَ مِنْهُ لَمْ يَظْمَأْ، عَرْضُهُ مِثْلُ طُولِهِ، مَا بَيْنَ عَمَّانَ إِلَى أَيْلَةَ، مَاؤُهُ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ، وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ». ما وويل: اې د الله رسوله! د حوض لوښي څه دي؟ لاس کې دی چې لوښي يې د آسمان له ستورو اووېې فرمايل: « قسم په هغه ذات چې د محمد روح د هغه په سيارو له شمېر څخه زيات دي،هغه هم په توره شپه او صاف آسمان کې، د جنت له لوښو څخه چې چا وڅښل بيا پرې تنده نه راځي، پدې حوض کې د جنت دوه ناوې بهيږي، چا چې ترې څښاک وکړ؛ نه ترې کيږي، پلنوالی يې د اوږدوالي په اندازه دی، لکه د عمان او ايله تر منځه - واټن - اوبه يې له شېدو څخه زياتې سپينې او له شهدو څخه زياتې خوږې دي».

[صحيح] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله - صلى الله عليه وسلم - قسم کوي چې د قيامت په ورځ به د هغه د حوض جامونه د آسمان له ستورو او سيارو څخه زيات وي. او دا - منظره - په هغه توره شپه کې ښکاري چې سپوږم نه وي. ځکه د سپوږم په شپه کې ستوري روښانه نه وي ځکه چې د سپوږم په رڼا کې پټ وي او هغه شپه چې وريځ پکې نه وي، ځکه چې د وريځو شتون د ستورو د ليدلو مخه نيسي. او دا چې د جنت په لوښو کې له شته څښاکو څخه څوک وڅښي، هغه به هېڅکله ترى نه شي او دا به وروست تنده وي چې څښونکي ته رسيږي. او دا چې په نوموړي حوض کې له جنت څخه دوه ناوې رابهيږي او پلنوالی يې د اوږدوالي په اندازه دی. او دا چې نوموړی حوض په کونجونو کې سره مساوي دی؛ اوږدوالی يې له عمان څخه نيولې چې په بلقاء کې يو ښار دی تر أيله پورې چې هغه هم د شام په څنډو کې يو پېژندل شوی ښار دی، د دې دواړو تر منځ د واټن په اندازه دی. او د دې حوض اوبه له شېدو څخه زياتې سپينې او خوند يې له شهدو څخه زيات خوږ دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65032

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee